# د توبې

## ديني او دُنياوي فائدې

**24-December-2020**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکې

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د توبے دیني او دُنیاوي فائدے

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت اُبَـئ بن کَعْب رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض اوکړو: یارسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه خو په تاسو ډېر زیات دُرود شریف لولم، تاسو اوفرمائي چې د شپې ورځې څومره حصه د دُرُود شریف وئیلو د پاره مقرر کړم؟ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ته چې څومره غواړې مقرر کړه. حضرت اُبَـئ بن کعب رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض اوکړو: د شپې ورځې څلورمه حصه مقرره کړم؟ نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **مَاشِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكَ** یعني ته چې څومره غواړې مقرره کړه، خو که ته د څلورمې نه هُم زیاته حصه مقرره کړې نو ستا د پاره به بهتر وي.

حضرت اُبَـئ بن کعب رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض اوکړو: د شپې ورځې نیمه حصه مقرره کړم؟ نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **مَاشِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ** یعني ته چې څومره

غواړې مقرره کړه، خو که ته د دې نه زياته حصه مقرره کړې نو ستا د پاره به بهتر وي. حضرت اُبَـیِّ بن کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہ عرض اوکړو: د شپې ورځې درې حصے مقررې کړم؟ نو سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **مَاشِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكَ** يعنې ته چې څومره غواړې مقرره کړه، خو که ته د دې نه زياته حصه مقرره کړې نو ستا د پاره به بهتر وي. حضرت اُبَـیِّ بن کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہ عرض اوکړو: **اَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي كُلَّـهَا** **يعنې زه به د شپې ورځې ټوله حصه صرف دُرود شريف لوستلو کښې تيروم**، نو سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **اِذًا تُكْفٰى هَمُّكَ وَيُغْفَرُلَكَ ذَنْبُكَ که ته داسې اوکړې نو دُرُود شريف به ستا د ټولو فکرونو او غمونو لرې کولو د پاره کافي شي او ستا د ټولو ګناهونو د پاره به کفاره شي.** (ترمذی، کتاب صفة القيامة، باب۲۳، ۴/۲۰۷، حديث:۲۴۶۵)

ذاتِ والا پہ بار بار درود بار بار اور بے شمار دُرُود
سر سے پا تک کروڑ بار سلام اور سراپا پہ بے شمار دُرُود
بے عدد اور بے عدد تسلیم بے شمار اور بے شمار دُرُود
بیٹھتے اٹھتے جاگتے سوتے ہو اِلٰہی مِرا شعار دُرُود

(ذوقِ نعت، ص۸۶۔۸۷)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ''**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**'' د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (معجمِ کَبِیر سهل بِن سعد الساعدی...الخ، /، حدیث)

**مَدَنِي ګل:** نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب

هُم زیات کیږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

❖ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بیان واورئ ❖ پوره تَوَجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❖ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده "**د توبے دیني او دُنیاوي فائدے**". په دې بیان کښې به اورو: حضرت سیدنا امام حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه د اولاد طلبګار ته د **اِستِغفَار** وظیفه ورکړه، حضرت سیدنا حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه هُم د مختلفو حاجتونو د پاره د **اِستِغفَار** کولو فرمائیلي دي. د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اِستِغفَار** کولو حکمتونه، د زیات **اِستِغفَار** فضیلت، زمونږ خوږ آخري نبـي محمد عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **نَبِیُّ التَّوبَه** ولے وائي؟ د دې نه علاوه د نورو ډیرو اهمو معلوماتو اوریدلو سعادت به هُم حاصلوو. په ډیره توجه او د زړه په حاضرئ سره پورا بیان د اوریدلو کوشش اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د ډیرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د ګناهونو نه بچ او د رښتیني توبه کولو توفیق رانصیب کړي، کاش! چې داسې توبه رانصیب شي چې بیا رانه هیڅ کله هم د اللّٰه پاك نافرماني اونشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** راځئ چې د ټولو نه اوَّل د مولٰی علي مشکل کشا رَضِی

اللّٰہ عَنْہُ د صاحبزاده حضرت سیدنا امام حسن مجتبٰی رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ یو د اِیمان نه ډك حكایت واورو:

## امام حسن او توبه و استغفار

حضرت امام حسن رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ یو ځل د حضرت امیر مُعاویه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ خوا ته تشریف یوړلو نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ ته د حضرت امیر مُعاویه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ یو نوکر اووئیل چې زما سره مال و دولت شته خو د اولاد د نِعمَت نه محرومه یم، ما ته داسې یو څیز اوښائې چې هغې سره الله پاك ما ته اولاد راكړي. هغوئي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ اوفرمائیل: اِستِغْفَار لوله. هغه اِستِغْفَار تر دې پورې زیات كړو چې هره ورځ به ئې ووه سوه ځله اِستِغْفَار كولو، د دې په بركت د هغه كس لس ځامن اوشو، چې كله دا خبره حضرت امیر مُعاویه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ ته معلومه شوه نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ هغه كس ته اوفرمائیل چې تاسو د حضرت امام حسن رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ نه دا تپوس ولے نه وو كړے چې هغوئی رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ دا عمل د كوم ځائے نه فرمائیلے وو. په دویم ځل چې كله د هغه كس د حضرت امام حسن رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ سره ملاقات اوشو نو هغه ترینه تپوس اوكړو نو حضرت امام حسن رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ اوفرمائیل چې تا د حضرت هُـود عَلَیْہِ السَّلَام قول نه دے اوریدلے كوم چې هغوئي فرمائیلے وو: "وَیَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰی قُوَّتِكُمْ" (مفہوم ترجمۂ کنزالایمان: او په تاسو كښې چې څومره قوت دے د دې نه نور زیات به دركړي) او د حضرت نوح عَلَیْہِ السَّلَام دا ارشاد دِ نه دے اوریدلے: یُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِیْنَ (مفہوم ترجمۂ کنزالایمان: د مال او ځامنو په ذریعه به ستاسو مدد اوكړي)

یعنې د رزق د كثرت [یعني زیاتوالي] او د اولاد غوښتلو د پاره ډیر زیات اِستِغْفَار كول قرآني عمل دے. (مدارک، ہود، تحت الآیة: ۵۲، ص۵۰۲،صراط الجنان ملخصاً)

حَسنِ مجتبیٰ سَیِّدُ الْاَسْخِیَا          راکبِ دُوشِ عزّت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش:ص309)

**د شعر وضاحت**: حضرت امام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہ د سخيانو سردار دے، د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکو اوږو باندې سورلي کولو والا حضرت امام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہ باندې ډير ډير سلام.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حضرت امام حسن بصري او د اِستِغفار وظيفه

مَنقُول دي چې د حضرت حسن بصري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خوا ته يو کس راغلو او هغه د باران د کمې شکايت اوکړو، هغوئ هغه ته د اِستِغْفَار کولو حکم ورکړو، دويم کس راغلو او هغه د تنګ دستئ شکايت اوکړو نو هغه ته ئې هم د دې حکم ورکړو، بيا دريم کس راغلو او هغه د نسل [يعني بچو] کميدو شکايت اوکړو نو هغه ته ئې هم دا اوفرمائيل، بيا څلورم کس راغلو او هغه په خپله زمکه کښې د فصل کميدو شکايت اوکړو نو هغه ته ئې هم دا اوفرمائيل. حضرت ربيع بن صبيح رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ هلته حاضر وو، هغوئ عرض اوکړو چې: ستاسو په خدمت کښې يو څو کسان راغلل او هغوئ مختلف قسمه حاجتونه پيش کړل خو تاسو ټولو ته صرف يو جواب ورکړو چې اِستِغْفَار لوله د دې وجه څه ده؟ هغوئ دا آيتونه اولوستل: "اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ﴿۱۰﴾ یُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَیْكُمْ مِّدْرَارًا ﴿۱۱﴾ وَّ یُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِیْنَ وَ یَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ یَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴿۱۲﴾ (مفهوم ترجمۀ کنزالايمان: د خپل رب نه مُعافي اوغواړئ، بيشکه هغه بخښونکے دے، نازل به کړي په تاسو باندې تيز باران، او مدد به اوکړي ستاسو د مالونو او اولاد په

ذریعه او جوړ به کړي ستاسو د پاره باغونه او جاري به کړي ستاسو د پاره نهرونه.) (خازن، نوح، تحت الآیة: ۱۰، ۱۱۱۰ / ۴، ۳۱۲، تفسیر ثعلبی، نوح، تحت الآیة: ۱۰، ۱۲ / ۴۴)

حضرت خواجه امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کوم آیتونه تلاوت کړي وو، د هغې ترجمه هم تاسو واوریدله، راځئ چې اوس د دې آیتونو تفسیر واورو:

په تفسیر **صراط الجِنان** کښې د دې آیتونو تفسیر څه داسې دے: چې کله قومِ عاد د حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام دعوت قبول نه کړو نو الله پاك د هغوئي د کفر په وجه درې کاله باران بند کړو او ډیر سخت قحط راغے او د هغوئي بیبیانې ئې شنډې کړې، چې کله دا خلق ډیر پریشانه شو نو حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام وعده اوکړه چې که تاسو په الله تعالیٰ اِیمان راوړو او د هغه د رسول تصدیق مو اوکړو او د الله پاك په بارګاه کښې مو توبه و استغفار اوکړو نو الله پاك به باران را اُووَرَوي او د هغوئي زمکې به شنې کړي او تازه ژوند به ورکړي او طاقت او اولاد به هُم ورکړي.

**اے د صحابه او اولیاء عاشقانِو!** تاسو اولیدل چې حضرت سیدنا امام حسن **مجتبیٰ** رَضِيَ اللهُ عَنْه د قرآنِ کریم [د تفسیر] څومره زبردست علم او پوهه لرله، او د قرآنِ کریم په علومو ئې څومره جور نظر او مَهارَت لرلو. خلقو به مختلفو معامَلاتو کښې د هغوئي طرف ته رجوع کوله او د فیض [یعني برکت] حاصلولو د پاره به د هغوئي په خدمت کښې حاضریدل. دغه شان **حضرت حسن بصري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د قرانِ کریم [د تفسیر] عِلم لرلو او د قرآنِ مجید د علومو ماهر وو. د دې نه دا هم معلومه شوه چې که مونږ ته هم څه مسائل او پریشانئ پیښې شي نو پکار ده چې د خپل پیر و مُرشِد په خدمت کښې حاضر شو، د **الله** پاك نیکو بندګانو ته د دُعا اووائیو، د خپل جمات عاشقِ رَسُول امام ته هم د دُعا د پاره اُووائیو.

## د اِستِغفار كولو فضائل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** توبه يو داسې عمل دے چې د دې د كولو حكم الله پاك په قرآنِ كريم كښې په سيپاره 5 **سورۂ نِسَآء** آيت نمبر 106 كښې ارشاد فرمائيلے دے:

وَ اسْتَغْفِرِ اللّٰهَؕ-اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا

**مفهوم ترجمۂ كنزالايمان:** او د الله نه بخښنه اوغواړئ بيشكه الله بخښونكے مهربانه دے.

په قرآن و حديث كښې د اِستِغفار كولو ډير فضائل موجود دي، راځئ چې د توبې په فضائلو او فوائدو مشتمل يو څو قرآني آيتونه او احاديثِ مباركه واورو چنانچه

په سيپاره 19 **سورۂ فُرقان** آيت نمبر 70 كښې ارشاد باري تعالٰى دے:

اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓىٕكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا(۷۰)

**مفهوم ترجمۂ كنزالعرفان:** مګر څوك چې توبه اوكړي او اِيمان راوړي او ښه عمل اوكړي نو د داسې [خلقو] بدئ به الله په نيكو بدلې كړي او الله بخښونكے مهربانه دے.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** سُبْحٰنَ الله! توبه كولو والا څومره خوش نصيبه دے چې د هغه بدئ مُعاف كيدلو سره سره په نيكو كښې هُم بدليږي. او په مونږه باندې د خپلو مَيندو [يعني موريانو] نه هم زيات رحمت كولو والا زمونږ خالق و مالك

په توبه کولو مونږ ته خپل **محبت** هُم راعطا کوي، په سیپاره 2 **سورۂ بقره** آیت نمبر 222 کښې ارشاد دے:

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ

**مفهوم ترجمۂ کنزالعرفان:** بیشکه الله ډیر توبه کوونکو سره محبت کوي.

او توبه کولو والؤ ته یو اِنعام هم عطا کوي چې د هغوئي نه عذاب لرې کوي ځنګه چې په سیپاره 9 **سورۂ اَنفال** آیت نمبر 33 کښې ارشاد دے:

وَ مَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَ هُمْ یَسْتَغْفِرُوْنَ

**مفهوم ترجمۂ کنزالعرفان:** او الله هغوئي ته عذاب ورکولو والا نه دے هله چې هغوئ بخښنه غواړي.

علامه علي بن محمد خازِن رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د دې آیت نه ثابته شوه چې **اِستِغفار** د عذاب نه په امن کښې د اوسیدلو ذریعه ده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دزړونو د زنګ صفائي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو واوریدل چې زمونږ پروردګار توبه کول څومره خوښوي او په توبه کوونکي ځنګه رحمتونه نازلوي چې د هغه ګناهونه په نیکو کښې بدلوي او اِستِغفار کوونکي خوښوي او د هغوئي نه عذاب هم لرې کوي. راځئ چې د توبې په فضائلو مشتمل د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو څو حدیثونو اوریدلو سعادت حاصل کړو، چنانچه د حضرت سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ نه روایت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بیشکه د اوسپني په شان زړونه هم زنګ کیږي او

د دې صفائي اِستِغفار كول دي. (مَجْمَعُ الزَّوَائِد ج١٠ ص٣٤٦ حديث١٧٥٧٥)

## د پريشانئ او تنګئ نه خلاصے

د حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے چې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې اِسْتِغْفار په خپل ځان لازم كړو الله پاك به د هغه هره پريشاني لرې كړي او د هرې تنګئ نه به راحت وركړي او هغه ته به د داسې ځائے نه رزق وركوي چې د هغه ځائے نه به د هغه ګمان هم نه وي. (سُنَن ابن ماجه ج٤ ص٢٥٧ حديث٣٨١٩) د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې دا خبره خوښوي چې د هغه نامۀ اعمال هغه خوشحاله كړي نو هغه له پكار دي چې په اِسْتِغْفار كښې اِضافه اوكړي. (مَجْمَعُ الزَّوَائِد ج١٠ ص٣٤٧ حديث١٧٥٧٩) په يو بل مقام كښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيرے وركوي، فرمائي: زيرے دے د هغه د پاره څوك چې په خپله نامه اعمال كښې اِستِغفار زيات اومومي. (سُنَن ابن ماجه ج٤ ص٢٥٧ حديث٣٨١٨)

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو اوليدل چې د اِستِغفار په بركت د زړونو نه زنګ لرې كيږي، د اِستِغفار په بركت د پريشانئ او تنګ دستئ نه خلاصے نصيب كيږي، د اِستِغفار په بركت به د بنده نامۀ اعمال هغه خوشحاله كوي، كثرت سره اِستِغفار كولو والؤ د پاره زيرے دے. د الله پاك په بارګاه كښې زر زر رښتيني توبه اوكړئ او راروان ژوند د الله پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا حاصلولو د پاره د سُنَّتو مطابق تير كړئ. الله پاك دِ مونږ ته د رښتيني توبے كولو توفيق را نصيب كړي.

## د اِستِغفار څه مطلب دے؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د اِستِغفار [يعني توبه] كولو يو څو فضائل واوريدل، راځئ! چې په دې هُم ځان پوهه كړو چې اِستِغفار يا توبه څه ته وائي؟ د

اِستِغْفار مطلب دے د الله پاك نه په خپلو ګناهونو شرمنده كيدل او بيا د ګناه نه كولو پخه اراده كولو سره سره د بخښنې دُعا كول، د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتل، توبه كول وغيره.

اعلٰى حضرت امام اهلسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګناهونو نه د توبه كولو مطلب بيانوي، فرمائي: ياد ساتئ چې سوړ اسويلي كولو..... يا..... خپل مخ وهلو.....يا.....خپلې پوزې او غوږونو له لاس وړلو.....يا خپله ژبه په غاښونو كښې زور كولو.....يا..... په سر ړقولو ړقولو توبه، توبه، توبه وئيلو ته توبه نه وائي بلكه د رښتيني توبې نه مراد دا دے چې بنده يوه ګناه د الله نافرماني اوګنړي او په هغې شرمنده [پښيمانه] شي او د الله پاك نه مُعافي اوغواړي او بيا د هغې ګناه نه د بچ كيدلو پخه اراده اوكړي، د هغې ګناه لرې كولو كوشش هم اوكړي. يعني كه لمُونځ ئې قضا كړے وو نو اوس دِ ئې ادا كړي، كه غلا ئې كړي وه يا ئې رشوت اخستے وو نو د توبه كولو نه پس دِ هغه مال اصل مالك يا د هغوئې وارثانو ته واپس وركړي يا دِ ئې په هغوئې مُعاف كړي، كه اصل مالك يا وارثان ئې نه وي معلوم نو په دے صورت كښې دِ ئې د اصل مالك له طرفه د الله پاك په لاره كښې صدقه كړي. (ماخوذ از فتاوىٰ رضويه، جلد ١٠، نصف اول، ص٩٧)

## اِستِغفار ځنګه كول پكار دي؟

اے **عاشقانِ رَسُول!** د ګناه نه توبه صرف د اِستِغفار نوم نه دے بلكه كه د هغې ګناه تعلق د الله پاك د بندګانو سره وي  نو د هغه حق ادا كول هُم ضروري دي ځنګه چې اعلٰى حضرت امام اهلسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شريعت حكم فرمائيلے دے چې كه د چا مال مو ناحقه اخستے وي نو هغه به وركول وي، عُلماء فرمائي چې حقونه درې قسمه دي: په دې كښې دوه حقونه د الله د ذات سره تعلق لري يو حق هغه دے چې الله پاك ئې نه مُعاف كوي، هغه دے د الله سره څوك شريك جوړول او دويم حق هغه دے كوم

چې الله پاك د بنده په اِستِغفار [يعني توبه] كولو مُعاف كوي او دريم حق **حقوقُ العباد** دے چې د بندګانو په مُعاف كولو مُعاف كيږي تر دې چې صبا د قيامت په ورځ د چا حق وي الله پاك به ئې د هغه له طرفه مُعاف كړي.

**اے عاشقانِ رسول!** يقيناً د **حُقُوقُ الْعِباد** مُعامَله ډيره سخته ده. لِهٰذا د دې نه ځان د ساتلو كوشش اوكړئ، كه د چا څه حق مو ضائع كړے وي نو زر ئې ادا كړئ او د رب په بارګاه كښې هم مُعافي اوغواړئ ځكه چې [الله پاك] توبه خوښوي، الله پاك دِ مونږ ته د **حقوقُ العباد** د خيال ساتلو توفيق راكړي. اٰمين

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا بهترين وخت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د توبه كولو د فضائلو او طريقه اوريدلو سعادت حاصل كړو خو ياد ساتئ الله پاك د خپلو بندګانو د پاره د رحمت نه ډك يو څو ساعتونه هم جوړ كړي دي چې په هغې كښې خاص كرم كيږي او هر غوښتونكے، كه هغه بخښنه اوغواړي او كه بل څه اوغواړي هغه نه محرومه كيږي. په هغه ساعتونو كښې شپه او د رحمت او بركت والا وخت د شپې آخرئ حصه ده. د شپې په آخرئ حصه كښې د ژړا او زاري كولو والؤ صِفَت په سيپاره 26 **سورةُ الذّٰرِيٰت** آيت نمبر 17، 18 كښې راغلے دے:

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَ بِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان: هغوئي به په شپه كښې كم اُوده كيدل او د شپې په آخره كښې به ئې اِستِغْفار كولو.

د **تفسير صِراطُ الْجِنان** خُلاصه دا ده: د پرهيزګارو خلقو د نيکو اعمالو کولو حال دا وو چې هغوئي به شپه په **تَهَجُّد** او بيدارئ کښې تيروله او که په شپه کښې به لږ اوده شو نو خپل ځان به ئې قصور وار ګنړلو او شپه په **تَهَجُّد** او بيدارئ کښې د تيرولو باوجود به ئې خپل ځان ګنهګار ګنړلو او د شپې آخرئ حصه به ئې د الله پاك نه بخښنه غوښتلو کښې تيروله. (مدارک ، الذّاريات ، تحت الآية:١٨١٧ ، ص١١٦٧ ، جلالين مع جمل ، الذّاريات ، تحت الآية:١٨١٧ ، ٧/٢٤٩ ، ملتقطاً)

د شپې آخرئ حصه د الله پاك نه بخښنه غوښتلو او دُعا کولو د پاره فائده منده ده. دلته د دې متعلق يو حديثِ پاك هُم واورئ، چنانچه

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيرَه رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روايت دے چې خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: الله پاك هره شپه هغه وخت دُنياوي آسمان طرف ته [د] رحمت [تَوجُّه] فرمائي چې کله د شپې دريمه حصه باقي پاتې وي اَو فرمائي: **څوك داسې شته چې زما نه دُعا اوغواړي چې زه د هغه دُعا قبوله کړم، څوك داسې شته چې زما نه سوال اوکړي چې زه هغه ته عطا کړم، څوك داسې شته چې زما نه بخښنه اوغواړي چې زه هغه او بخښم.** (بخاری ، کتاب التّهجّد ، باب الدّعاء والصّلاة من آخر اللّيل ، ١/٣٨٨ ، الحديث:١١٤٥)

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَيْہ د دې حديثِ پاك شرح بيانوي، د هغې خلاصه دا: د دې نه معلومه شوه چې شپه د ورځې نه افضله ده چې د هرې شپې په آخرئ حصه کښې د الله رحمت او کرم ديځوا [دُنيا ته] متوجه کيږي او دا د قبوليت يو ساعت نه دے بلکه ډير ساعتونه دي او په ورځ کښې د قبوليت ساعت په هفته کښې يوه د جُمُعې ورځ راځي او هغه هم زمونږ نه پټ دے. الله پاك دِ مونږ ته هغه وخت د غوښتلو توفيق رانصيب کړي.

حضرت سَيِّدُنا يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د خپلو ځامنو د پاره د الله پاك نه مُعافـي غوښتلو د پاره هم د شپې آخرئ حصه منتخب كړې وه، په قرآنِ پاك كښې دي:

قَالُوْا يٰۤاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَاۤ اِنَّا كُنَّا خٰطِـٕیْنَ(۹۷) قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّیْؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ(۹۸)

**مفهوم ترجمهٔ كنزالايمان:** اوئې وئيل اے زمونږه پلاره زمونږ د ګناهونو مُعافـي اوغواړئ بيشكه مونږه خطا كار يو. [هغوئي] اوفرمائيل زر به زه ستاسو بخښنه د خپل رب نه اوغواړم بيشكه هغه بخښونكے مهربانه دے.

مفسرينِ كرام فرمائي: حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د خپلو ځامنو د پاره دُعا او اِسْتِغْفَار د پيشمني پورې مُؤَخَّر [يعني وروسته] كړلو ځكه چې دغه وخت دُعا د پاره د ټولو نه بهترين دے او دا هغه وخت دے چې الله پاك فرمائي: **شته دے څوك دُعا غوښتلو والا چې زه د هغه دُعا قبوله كړم**، چې كله د پيشمني وخت شو نو حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د لَمانځه نه پس لاسونه اوچت كړل د الله پاك په بارګاه كښې ئې د خپلو ځامنو د پاره دُعا اوكړه، دُعا قبوله شوه او حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوشوه چې ستا د بچو خطا مُعاف كړے شوه. (تفسير صراط الجنان، ۵/۵۵تا۵۶)

**اے عاشقانِ رسول!** د الله پاك نيك بندګان هر وخت په نيكو كښې د مصروف اوسيدلو باوجود خپل ځان ګنهګار ګڼړي او هميشه د الله پاك نه يَريږي، تر دې پورې چې بعضې [نيك بندګان] د **الله** پاک د ويرې نه ټوله شپه عبادت كوي، بعضې د يو آيت په تلاوت كولو كولو كښې ټوله شپه تيره كړي، بعضې ټوله شپه په ژړا تيره كړي او [د الله پاک د ويرې نه] د بعضو روحونه اوځي. خو افسوس! زمونږ حالت دا دے چې شپه ورځ په ګناهونو كښې اخته يُو، خو نه شرميږو او نه د آخرت ويره لرو. د الله پاك نيك بندګان د شپې ويښ اوسي، ډيرې روژے نيسي، ډير نيك اعمال كوي خو بيا

هم ځان کمتر ګڼړي او د **الله** د ویرې ژاړي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## عجیبه پښیمانتیا

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** امام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **مُکاشَفَةُ الْقُلوب** کښې نقل کوي: حضرت سَیِّدُنا شیخ ابو علي دَقَّاق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې یو لوئي **وَلِيُّ الله** سخت بیمار وو، زه د هغوئي تپوس له حاضر شوم، ګیر چاپیره د عقیدمندو ګڼړه وه، هغه بُزُرګ ژړل، ما عرض اوکړو: اے شیخ! آیا د دُنیا په پاتې کیدلو ژاړې؟ هغوئي اوفرمائیل: نه، بلکه د لمُونځونو په قضا کیدلو ژاړم. ما عرض اوکړو: حُضُور! ستاسو لمُونځونه څنګه قضا شوي دي؟ هغوئي اوفرمائیل: ما چې کله هم سجده کړې ده په غفلت سره [مې کړې ده] او چې کله مې د سجدے نه سر اوچت کړے دے نو هم په غفلت سره او اوس په غفلت کښې مرم، بیا ئې یو اسویلے اوکړو او څلور عربي اشعار ئې اولوستل چې د هغې ترجمه دا ده: (1) ما په خپل حشر، د قیامت په ورځ او قبر کښې د خپل مخ لګیدلو په باره کښې غور اوکړو، (2) د دومره عزت او مرتبې نه پس به زه یواځې پروت یم او د خپل جرم په وجه به ګانړه یم او خاوره به زما بالښت وي، (3) ما په خپل اوګږد حساب او د نامه اعمال ورکولو وخت کښې رُسوائې باندې سوچ اوکړو، (4) خو اے زما پیدا کولو والا او زما پالونکیه (پروردګاره) زه ستا نه د رحمت اُمید لرم، ته زما خطاګانې مُعاف کوونکے ئې. (مُکاشَفَةُ الْقُلوب ص۲۲)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اویاؤ کالو ګناه مُعاف

حضرت سَیِّدُنا معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل سند سره د حضرت سَیِّدُنا اَنَس بن

مالك او حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُم نه روايت كوي چې يو كس د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شو عرض ئې اوكړو: ''يـا رَسُـولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څه داسې عمل راته اوښائې چې هغه ما جنت ته داخل كړي.'' نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ''غصه پريږده.'' كه داسې نه شي كيدے [نو بيا]؟ نو آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ''هره ورځ د مازديګر د لمَانځه نه پس اويا ځله الله پاك ته اِسْتِغْفَار كوه نو هغه به ستا د اوياؤ كالو ګناهونه مُعاف كړي.'' عرض ئې اوكړو: ''كه زما د اوياؤ كالو ګناه نه وي نو؟'' ارشاد ئې اوفرمائيلو: ''نو بيا به ستا د مور د اوياؤ كالو ګناهونه مُعاف كړے شي.'' بيا ئې عرض اوكړو: كه زما مور وفات شوي وي او د هغې د اوياؤ كالو ګناهونه نه وي نو [بيا]؟ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ستا د نزدې خپلوانو د اوياؤ كالو ګناهونه به مُعاف كړے شي. (تاريخِ بغداد، الرقم۷۷۸۰، ابو على المفلوج، ج۱۴، ص۴۲۵۔ حلية الاولياء، معروف الكرخى، الحديث۱۲۷۱۹، ج۸، ص۴۱۱)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هُم ډير زيات اِستِغفار كولو او زمونږ د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مباركو نومونو كښې يو نوم **نَبِـيُّ التَّوبَه** (يعني د توبې والا نبـي) هُم دے، د دې حكمت څه دے؟ راځئ چې! د دې په باره كښې واورو:

## نبـي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نَبِـيُّ التَّوبَه (د توبې والا نبـي) دے

د حضرت سَیِّدُنا حُذيفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د مدِينې مُنَوَّرے په يوه لاره كښې مې د حُضُور اِكرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ملاقات اوشو: ارشاد ئې اوفرمائيلو: اَنَا مُحَمَّدٌ وَ اَنَا اَحْمَدُ وَ اَنَا نَبِيُّ الرَّحْمَةِ وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ [يعني] زه محمد يم، زه احمد يم، زه د

رحمت والا نبـي يم، زه د توبے والا نبـي يم. (شمائل الترمذی مع جامع الترمذی باب ماجاء فی اسماء رسول الله الخ نور محمد کارخانه تجارت کتب کراچی ۲/ ۵۹۷)(مسند احمد بن حنبل، حدیث حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه، دار الفکر بیروت، ۵/ ۴۰۵)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو مبارك نوم **نَبِـيُّ التَّوبَه** هم دے. اعلیٰ حضرت امامِ اهلسنت علامه شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فتاوٰی رَضَوِيَّه کښې د دې مبارك نوم **نَبِـيُّ التَّوبَه** مختلف وُجوهات بيانوي، فرمائي: د هغې خُلاصه ده:

(1) د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکۍ د دعوت په برکت ډيرو خلقو توبه کړې ده، د هغوئي په برکت مخلوق ته توبه نصيب شوي ده، او څومره چې د هغوئي په لاسو مخلوق توبه کړې ده، د بل نبـي په لاسو دومره [خلقو] ته توبه نه ده نصيب شوي، په دې وجه زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **نَبِـيُّ التَّوبَه** (توبه والا نبـي) وئيلے کيږي.

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله زياته توبه کولو والا، اُمَّت ئې په ټول اُمتيانو کښې زيات توبه کوونکے، د اُمَّت توبه ئې په ټولو اُمتيانو کښې زياته قبليدلو والا ده او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توبه کوونکو نبي دے په دې وجه زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **نَبِـيُّ التَّوبَه** (يعني توبه والا نبـي) وئيلے کيږي.

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توبے دروازه بيرته کولو والا، هغوئي توبه قبلولو والا او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت په آخري دور کښې به د توبے دروازه بنده شي. په دې وجه زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **نَبِـيُّ التَّوبَه** (توبه والا نبـي) وئيل کيږي.

د ګناهونو نه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته توبه کيږي او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نَبِـيُّ التَّوبَه داسې دے چې بندګانو ته حکم دے چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

خدمت کښې حاضرېږي او هلته توبه استِغفار کوي. څکه زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نَبِـيُّ التَّوۡبَه (توبه والا نبـي) وئيلے کيږي. (فتاویٰ رضويه، ج15، ص648 تا 656، رضافاؤنڈيشن لاہور)

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چې زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډير زيات اِستِغفار کولو، راځئ چې د دې متعلق لږ نور څه واورو:

**حضرت علامه بدرُ الدين عَينـي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هميشه درجاتِ عالِيَه [يعني اوچتو درجو] طرف ته ترقي کوي او چې کله هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو حال نه بل حال طرف ته ترقي کوي نو په خپل وړومبني حال اِستِغۡفار کوي. (عمدة القاری، كتاب الدعوات، باب اِسۡتِغۡفَار النبی فی اليوم والليلة، ۱۵/۴۱۳ تحت الحديث: ۶۳۰۷)

بانـي دعوتِ اسلامي اَميرِ اَهلسنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه هم خپلو مريدانو او عقيدتمندو ته د کثرتِ اِستغفار ترغيب ورکوي او په شجره شريف کښې فرمائي: په شپه ورځ کښې که هر وخت وي هره ورځ اويا (70) ځله دا لولئ: **اَسۡتَغۡفِرُاللّٰهَ الۡعَظِيۡمَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡه**.کاش چې مونږه اِستغفار سره سره د شجره شريف د ټولو اورادو [وظائفو] لوستلو والا جوړ شو.

## د نبـي پاك د استغفار حکمت

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مفتـي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: توبه و استِغفار، د لمَانځه، روژے په شان عبادت دے، په دې وجه به حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات اِستِغفار کولو. ځکه حُضُورِ اِکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معصوم دے، ګناه خوږ

نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نِزدې هُم نه شي راتللے، صوفيائے کرام فرمائي چې مونږه ګناه کوو او توبه کوو او هغوئي عبادت کوي او توبه کوي. (زاهد د ګناه په وجه توبه کوي او عارف عبادت کوي او استغفار کوي) يا بيا دا چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا عمل د اُمَّت د تعليم د پاره وو. (ملخصاً ازمراٰةالمناجيح، ۳/۳۵۳)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** د الله پاك د مشهور ولي حضرت سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رښتيني توبے واقعه واورئ! الله پاك دِ د هغوئي په برکت مونږ ته هم د رښتيني توبے توفيق را نصيب کړي.

## د حضرت مالِك بِن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه توبه

منقول دي چې حضرت سَيِّدُنا مالِك بِن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به (د توبه کولو نه مخکښې) نشه کوله، د هغوئي د توبے سبب دا جوړ شو چې هغوئي به د خپلې يوې ماشومې لور سره ډيره مينه کوله، هغه [وړوکۍ] وفات شوي وه هغوئی د شعبان په پينځلسمه شپه خوب اوليدلو چې د هغوئي د قبر نه يو ښامار را اووتلو او په هغوئي پسې شوه، هغوئي به چې کله تيز تللو نو هغه به هم ورپسې تيز شولو، بيا هغوئي د يو کمزوري بوډا په خوا تيريدلو نو هغه ته ئې اووئيل: ما د دې ښامار نه بچ کړئ. هغه جواب ورکړو چې زه کمزورے يم، تيزه منډه وهه، کيدے شي چې دغسې ترينه خلاص شې. هغوئي تيز شو، ښامار هم ورپسے وو، تر دې چې هغوئي د اور لـمبے وهونکو کندو په خوا تيريدلو، نِزدې وه چې هغوئی ور لويدلے وے چې په دې کښې يو غږ اوشو: ته د اور د پاره نه ئې. هغوئي په منډه منډه روان وو تر دې چې يو غر ته اوختلو، په هغے پردے او سورے جوړ وو، ناڅاپه يو غږ اوشو: د دې نا اُميده نه د دښمن د نيولو نه مخکښې راچاپيره شئ.

نو ډير ماشومان ترينه راچاپيره شو، په هغوئي كښې د دوئي هغه لور هم وه، هغه د دوئي خوا ته راغله او په خپل ښي لاس ئې هغه ښامار اووهلو نو هغه اوتښتيدلو او بيا هغه د هغوئي په غيرِه كښې كښيناستله او دا آيت ئې اولوستلو: اَلَمۡ یَاۡنِ لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡ تَخۡشَعَ قُلُوۡبُهُمۡ لِذِكۡرِ اللّٰهِ وَ مَا نَزَلَ مِنَ الۡحَقِّ ۙ مفهوم ترجمهٔ كنزالايمان: آيا په ايمان والؤ لا هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه ټيټ شي د **الله** د ياد د پاره او د هغه حق د پاره چې نازل شوے دے. (پاره27سورة الحديد، آيت16)

مالك بن دينار رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي چې ما د خپلې لور نه تپوس اوكړو: آيا تاسو وفات شوي خلق قرآن هم لولئ؟ هغې جواب راكړو: آو! مونږه تاسو ژوندو نه زيات د دے معرِفَت [يعني پوهه] لرو. بيا هغوئي د خپلې لور نه دغلته د اوسيدلو د مقصد تپوس اوكړلو نو هغې اووئيل: دا ماشومان به تر قيامته پورې دلته اوسيږي او د خپلو هغو مور او پلار انتظار به كوي كومو چې دوئي مخكښې راليږلي دي. بيا ئې ترينه د هغه ښامار په باره كښې تپوس اوكړو نو هغې اووئيل: هغه ستاسو بد عمل دے. بيا ئې ترينه د هغه بُوډا كس په باره كښې تپوس اوكړو نو هغې اووئيل: هغه ستا نيك عمل دے. تاسو هغه [يعني نيك عمل] دومره كمزورے كړے دے چې په هغه كښې ستاسو د بد عمل د مُقابَلے كولو طاقت نشته، لِهٰذا تاسو د الله پاك په بارګاه كښې توبه اوكړئ او د هلاك كيدلو نه ځان بچ كړئ. بيا هغه يو اوچت مقام ته لاړه. چې كله هغوئي رابيدار شو نو په هُم هغه وخت ئې رښتيني توبه اوكړله. (روض الرياحين، ص19)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې واقعه كښې زمونږ د پاره ډير عبرت دے، كيدے شي چې مونږ سره هم داسې واقعات پيښ شوي وي چې د هغې نه پس مونږ ته نوے ژوند ملاو شوے وي، بعضې وخت په خوب كښې هم داسې اشارے

ملاویږي چې عقلمندو د پاره په هغې کښې ډیر عِبرت وي. خو مونږ به هغه هُم هسې یو خوب یا خیال ګڼړو او نظر انداز کوو به ئې چې دا څه حقیقت خو نه دے؟ کله به داسې خپل زړه ته تسلي ورکوو چې داسې خیالونه خو خلقو ته ډیر ورځي چې په هغې کښې بنده سره د مرګ معاملات پیښیږي، خو په حقیقت کښې یو نصیحت کولو والا مونږه د غفلت د خوب نه را بیداروي چې مونږه مسلسل د ګناهونو په دَلدَل کښې خخیږو او یو نصیحت کوونکے مونږ ته دا وائي چې، بس نور سَم شه، هُم دا د توبه کولو او د ګناهونو نه د مخ اړولو او د الله پاك په فرمانبردارئ کښې د ژوند تیرولو وخت دے.

اے کاش! چې مونږه داسې خاموشه پیغامونو باندې سنجیدګئ سره غور اوکړو او حقیقي طور د ګناهونو د دَلدَل نه وتلو کښې کامیاب شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې دور کښې د شیطاني وسوسو نه د بچ کیدلو، د اِیمان د سلامتیا، استقامت سره د نیکو کولو او په توبه باندې ثابت قدمي حاصلولو د پاره د نیکو خلقو صحبت اختیارول ډیر ضروري دي، ځکه چې د نیکو خلقو په صحبت کښې د ګناهونو نه نفرت او د نیکو کولو ذِهن جوړیږي. په دې وخت کښې د عاشقانِ رسول د مدني تحریک دعوت اسلامي مدني ماحول د یو نعمت نه کم نه دے. که مونږه غواړو چې نیك جوړ شو او د اِیمان حفاظت کوونکي جوړ شو نو پکار ده چې سمدستي د دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښې شامل شو او د سنتو عام کولو د پاره د خپلو مصروفیاتو نه وخت اوباسو او د ذیلي حلقے دولسو مدني کارونو کښې د زړه د اِخلاصه خپل کردار ادا کړو او د ډیرو ثوابونو حقدار جوړ شو. او خپل

قبر و آخرت ښائسته کړو. په دې 12 مدني کارونو کښې يو مدني کار "**مدني قافِله**" هم ده.

## دولسو مدني کارونو کښې يو مدني کار "مدني قافِله"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د قافلو په برکت د ډيرو خلقو په ژوند کښې مدني انقلاب راغلے دے. ❖ قافلو کښې سفر کولو سره د نيکو خلقو صحبت حاصليږي. ❖ د قافلو په برکت په جُمات کښې د نفلي اعتکاف کولو ثواب حاصليږي.. ❖ د قافلو په برکت بيلمانځه خلقو ته د لمَانځه اهميت معلوم شي. ❖ د قافلو په برکت ډير دِيني مسائل زده کولو سعادت نصيب کيږي. ❖ د قافلو په برکت په جماتونو کښې د ذِکر و اذکار، درس و بيان سلسله جاري وي. ❖ د قافلو په برکت جماتونه آباديږي. ❖ د جماتونو آبادولو به څه وائي! حديثِ پاك کښې دي: چې کله يو بنده د ذِکر و عبادت د پاره جُمات خپل ځائے جوړ کړي نو الله پاك د هغه نه داسې خوشحاليږي لکه خلق چې د خپل ورك شوي کس په راتلو باندې خوشحاليږي.

(ابن ماجه، کتاب المساجد... الخ، باب لزوم المساجد... الخ، ۱/۴۳۸، حديث:۸۰۰)

راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د زوړ مرض نه ئې خلاصے اوموندو؟

د کراچۍ د علاقے ناظم آباد د يو پوخ عمر والا اسلامي ورور د مدني قافلے نه حاصل شوي برکتونو څه داسې بيانوي چې زه د 19 کالو نه د ساه لنډې په مرض کښې اخته ووم. بعضې وخت به را ته د مرض په وجه ډير زيات تکليف کيدو. کله به مې نيمه شپه طبيعت دومره خراب شو چې فوراً به ډاکټر له لاړم. الغرض زه ډير پريشانه ووم. د علاج کولو کښې مې هيڅ کمے نه وو پريښودے. هره ورځ به مې تقريباً **150** روپۍ په دوايانو خرچ کيدلې چې هغې سره به مې وقتي طور آرام راغے خو مستقل

سکون به را ته نه کېدلو. هر وخت به په دې فِکر او پرېشانۍ کښې اوسېدم چې د دې مرض نه به څنګه جوړ شم. زما خوش قِسمتي وه چې يو ځل را ته د دعوتِ اسلامي عاشقانِ رسول سره د درې ورځو **مدني قافله** کښې د سفر کولو سعادت نصيب شو. د **مدني قافِلې** په برکت زما شپې او ورځې د الله پاک په عبادت کښې تېرېدلې او د علمِ دين حاصلولو موقع هُم رانصيب وه. هلته ما ته نور برکات هم نصيب شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** په هغه درې ورځو کښې ما ته د ستن وهلو حاجت پېښ نه شو او نه يو ډاکټر له د تللو ضرورت پېښ شو بلکه په **مدني قافله** کښې راته داسې اطمينان او سکون نصيب شو چې د هغې نه مخکښې راته کله هم نه وو نصيب شوے. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د مدني قافِلې په برکت زما د 19 کالو زوړ مرض کښې ښکاره کمے راغے. اوس ما نيت کړے دے چه اِنْ شَآءَ اللّٰه هره مياشت به د درے ورځو مدني قافِله کښې سفر کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامي مدني سپرلي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ګناهونو نه رښتيني توبه نصيب کېدل هم ډېره غټه سعادتمندي ده، خو ډېر خلق داسې هم دے چې د توبه کولو نه پس د بدو دوستانو يا بد ماحول په وجه بيا په ګناهونو کښې اخته شي. کاش چې! د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره داسې پوخ تړون رانصيب شي چې د ګناهونو نه توبه کولو نه پس بيا د ګناهونو د ماحول نه بچ پاتې کېدلو کښې کامياب شو، بلکه د نيکۍ د دعوت عام کولو داسې جذبه را نصيب شي چې ځپله هم نيک اعمال کولو والا جوړ شو او نورو ته هم د نيکۍ دعوت ورکولو والا جوړ شو.

## د کلمه او دُعا (Kalma & Dua) اَيپ تعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي په دې جديد دور کښې په هره شعبه کښې بلکه د هرې طبقې په خلقو کښې د نيکۍ دعوت عام کولو د پاره د جديدو ذريعو اختيارولو کوشش کوي چې په څه طريقه اُمَّتِ مسلمه ته صحيح ديني معلومات اورسي. مجلس آئي ټي (I.T) يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د ”**کلمه اينډ دُعا** (Kalma & Dua)“ جاري کړے دے. د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ډير آسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کيدے شي. په دې ايپلي کيشن کښې څه دي، راځۍ چې واورو:

❖ شپږ کلمے د آواز په صورت کښې ټکي په ټکي ادائيګي او د هغې ترجمه ☆ هره ورځ شپاړس مختلفې دُعاګاني مثلاً د اوبو څښلو نه مخکښې دُعا، د خوراك څښلو نه مخکښې دُعا، د اوده کيدلو دُعا، د شودو څښلو دُعا وغيره ټکي په ټکي ادائيګي د ترجمے سره ❖ د ماشومانو په ډير ښکلي او ښائسته آواز او جدا انداز کښې په مختلفو موضوعاتو باندې سُنتونه او آداب مثلاً د سلام سنتونه او آداب، د خوراك سنتونه او آداب، د اوبو څښلو سنتونه او آداب، وغيره. هُم نن په خپل موبائل کښې دا ايپ انسټال کړۍ او د خپلو بچو د اسلامي تربيت اهتمام اوکړۍ. او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړۍ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ”چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره

مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه گاونډي خوږه آقا

## د قناعت یو څو مدني گلونه او د قناعت اختیارولو طریقے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قناعت په باره کښې یو څو مدني گلونه د اوریدلو سعادت حاصلوو: اوَّل دوه فرامینِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: چنانچه

﴿۱﴾ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: قناعت [یعني په لږ څه باندې صبر کول] هیڅ کله نه ختمیدونکې خزانه ده. (الزھد للبیھقی،الجزء الاول من کتاب...الخ،ص۸۸،حدیث:۱۰۴) ﴿۲﴾ رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بیشکه کامیابه شو هغه کس چا چې اسلام راوړو او هغه ته په قدر د کفایت رزق ورکړے شو او الله پاك چې هغه ته څه ورکړل په هغې ئې قناعت هُم ورکړو. (مسلم، کتاب الزکاۃ، باب فی الکفاف والقناعۃ، ص۴۰۶، حدیث:۲۴۲۶) ﴿۳﴾ انسان ته چې څه د الله پاك له طرفه ورکړے شي په هغې راضي اوسیدلو او حِرص او لالچ پریښودلو ته قناعت وائي. (جنتی زیور،ص۱۳۶بتغیر قلیل) ﴿۴﴾ د روزانے استعمالیدونکو څیزونو په نشتوالي باندې راضي اوسیدل هم قناعت دے. (التعریفات للجرجانی،باب القاف،تحت اللفظ: القناعۃ،ص۱۲۶) ﴿۵﴾ لالچ ډیر ناکاره او بد عادت دے، د الله پاك له طرفه چې بنده ته کوم رزق، نعمت او مال و دولت یا عزت و مرتبه حاصله وي، په هغې راضي اوسیدل او قناعت کول پکار دي. (جنتی زیور،۱۱۰ملخصا) ﴿۶﴾ څوک چې د بل په مال باندې نظر ساتي هغه به همیشه غمگین اوسیږي. (رساله قشیریة، ص۱۹۸) ﴿۷﴾ **بَلعَم بِن باعورا** چې ډیر غټ عالِم او مُستَجابُ الدَّعوات وو(یعني کومه دُعا به ئې چې کوله هغه به قبلیدله)، هغه حِرص او لالچ په دُنیا او آخرت کښې تباه و برباد کړو. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص۳۶۷ ماخوذا) ﴿۸﴾ الله

پاك فرمائي: هغه كس زما په نِزد د ټولو نه مالدار دے څوك چې زما په وركړې شوي څيز باندې د ټولو نه زيات قناعت كوونكے وي. (ابنِ عساكر ،رقم ۷۷۴۰، موسیٰ بن عمران ،۶۱/ ۱۳۹ ملخصا)❖ قناعت اختيارولو د پاره احاديثِ مباركه او د بُزُرګانِ دين اقوال اولولئ. ❖ په الله پاك مضبوط يقين ساتئ او په زړه كښې دا خبره هر وخت ياده لرئ چې زما ټول حال الله پاك ويني. ❖ په زړه كښې د آخرت د حساب ويره لرئ او د خپل حالت په تنګئ باندې د آخرت بهتر كولو د پاره صبر كوئ. ❖ داسې خلقو سره اوسيږئ كوم چې قناعت خوښوي او په هر حال كښې د الله پاك شكر ادا كوي. ❖ د مال و دولت د حرص ختمولو د پاره په خپل ذهن كښې د دُنيا د فنا كيدلو او د آخرت د هميشه باقي پاتې كيدونكو نعمتونو نصيب كيدل ياد ساتئ. ❖ د الله پاك نه دُعا هم غواړئ چې هغه په هر حال كښې د خوشحاله اوسيدلو او د صبر و شكر كولو توفيق دركړي.

قِسماقِسم سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه (۱) د 312 صفحو كتاب ''بهارِشريعت'' حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو كتاب ''سُنّتیں اور آداب'' او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ''101 مدنی پھول'' او ''163 مدني ګلونه'' هديةً واخلئ او اولولئ. د سُنّتو د تربِيَّت يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروردگار

سُنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار

(وسائلِ بخشش مرمَّم،ص۶۳۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړې شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مينځ كښې كښينولو، دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِي مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دې! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دې چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1...القول البديع، الباب الثاني، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵